



**فیثاغورث:**

نوموړی د نړۍ تر ټولو لوی فیلسوف او ریاضي پوه وو، چې پر (۵۸۲)ق م کال کې د «ساموس» په ټاپو کې چې په لرغوني یونان کې موقعیت لري زیږیدلی دی. فیثاغورث په ځوانۍ کې ډېر سفرونه وکړل او د ژوند دوه ویشت کاله یې په سفر کې تېر کړل. مصر، بابل او ایران ته یې ډېر سفرونه کړې دي او په دې سفرونو

کې یې ډېر څه زده کړل. هغهٔ په خپل ټاټوبي یونان کې یوه ښوونځی جوړه کړه چیرې چې هغه د ریاضي، فزیک، اخلاقو او سیاست ښوونه او تدریس کاوه. وروسته بیا دی «کروتون» ته ولاړو او هلته یې د خپلو پلویانو یوه ټولنه جوړه کړه، او دې ټولنې د څه مودې لپاره په ښار کې واک او اغېز درلود. خو په پای کې خلک د فیثاغورث سره همغږي او موافق نه شول او هغه «میتاپونشن» ته لاړ (چې په جنوبي ایټالیا کې موقعیت لري) او هلته مړ شو. هغه بې له شکه د نړۍ د فلسفې او ریاضیاتو یو له بنسټ ایښودونکو څخه دی. فیثاغورث په ریاضیاتو کې استدلال معرفي کړ، او دا د هغه وخت ترټولو مهم علمي او ساینسي موندنې او کشفونه دي. فیثاغورث هغه څوک وو، چې ریاضیات یې له فلسفې، تصوف او موسیقۍ سره ګډ کړل او د یوه ژور فلسفي نظام بنسټ یې کېښود.ده د علم او ساینس په تاریخ کې ځینې لید توګي او رسمونه رامنځته کړل.

**دا هم د فیثاغورث ګڼ شمېر ګټورې او اغېزناکې خبرې او ویناوې:**

- هیڅکله پر هغه ملګري باور مه کوئ چې د خپلو ملګرو په اړه خبرې کوي.

- وړتیا او اړتیا یو له بل سره تړاو لري.

- هیڅکله د اندو فکر کولو د مخه خبرې مه کوئ او یو کار مه ترسره کوئ.

- موږ باید خپله اروا وپیژنو او د خپلې اروا او زړه په ژورو کې د خوښۍ او نیکمرغۍ لټون وکړو.

- ویسا(اعتبار) د انسان د پیداینښت په شان دی، کله چې انسان یو ځل ویسا (اعتبار) له لاسه ورکړي، بېرته یې نشي موندلی.

- کله چې غوسه شو، باید له دغو دواړو کړنو، وینا او عمل څخه ډډه وکړو.

- په دوستۍ کې شک کول زهر دي.

- یا چُپ او خاموش اوسه یا داسې څه ووایه چې تر چوپتیا غوره وي.

- هغه څوک چې د وژنې او کړاو تخم کري هغه نشي کولی مینه او خوښي را ټوله کړي.

- که ملګری مو کومه تېروتنه کوي، د هغه ملګرتیا مه پرېږده ځکه چې انسان د تېروتنو تابع وي.

- انسان باید په عمل کې وازمویل شي نه په ویناوو ځکه زیاتره خلک په عمل کې بد او په خبرو کې ښه وي.

- ناپوه او احمق په خپلو خبرو او هوښیار په چوپتیا او خاموشۍ کې پېژندل کېږي.

- ستاسو ملګری هغه څوک دی چې کله هم له تاسو څخه حقیقت واوري، په غوسه نه شي.

- د انسان تکل او اراده د هغه د برخلیک تر څنګ ولاړ دی او د هغه د پرمختګ څرخ کنټرولوي.

- هغه اصل چې د انسانانو ژوند اداره کوي احساسات دي.

- غوسه په لیونتوب پیلېږي او په پښیمانۍ پای ته رسېږي.

- سره زر د اور په وسیله، ښځه د سرو زرو له لارې، او نارینه د ښځې په وسیله و ازمویئ او امتحان کړئ.

- څوک مو چې خپلو تېروتنو ته پام اړوي د هغه چا نه ډېر غوره دی چې غوړه مالي او چاپلوسي درته کوي او د غرور په رنځ مو اخته کوي.

***

په درنښت او ادبي مینه: انجنیر عبدلقادر مسعود